مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه: سمسور ودان

۲۰۲۳/۰۶/۰۴

# کوڼ

## (طنز)

یو پریشانه خاوند ډاکټر ته ورغی.

ـ ډاکټر صیب! زما په خیال چې ښځه مې مکمل کڼه شوې، زه څو څو ځله خپله خبره ورته تکراروم، ایله چې ځواب راکړي. اوس زه څه وکړم؟

ډاکټر ووېل: اول دا خبره یقیني کړه چې هغه رښتیا هم کڼه ده که نه؟ بیا یې د ټیسټ له پاره دلته راوله، وروسته به یې علاج شروع کړو. او هو رښتیا، نن چې کور ته لاړې ۱۵ فوټه لرې خپلې ښځې ته کومه خبره وکړه او بیا یې رد عمل ته منتظر شه. که هغې ځواب درنکړ، همدا خبره له ۱۰ فوټو ورته وکړه. که بیا هم نشوه نو له ۵ فوټونو یې وازمایه. په دې سره به پوی شو چې د کوڼتیا شدت یې په کوم حد کې دی؟

خاوند یې کور ته راغی. مېرمنې یې پخلنځي کې سبزي پرې کوله. د ډاکټر د لارښوونې مطابق یې ۱۵ فوټه لرې والې نه پوښتنه ترې وکړه: مېرمنې نن څه پخوې؟

بیا یې له ۱۰ فوټونو همدا سوال وکړ؛ خو ښځې لا هم سر ښکته کړی و او ځواب یې نه و.
خاوند نور هم نیږدې راغی او له ۵ فوټونو یې همدا پوښتنه تکرار کړه.

ښځې لا هم ځواب نه و ورکړی.

دا ځل خاوند بیخي په تنګ شو، خپلې مېرمنې ته مخامخ ودرېد او په ۳ انچه لرېوالي یې ترې وپوښتل: مېرمنې! ما در نه وپوښتل چې: څه پخوې؟

ښځې یې سر اوچت کړ او په غوسه یې ځواب ورکړ: په څلورم وار درته وایم چې الوګان او غوښه.

ژباړه: سمسور ودان



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په څیر و لولئ